د ژوند د مهارتونو درسي پلان (کریکولم)
پیلیزه کچه

ډول:

د استوګنې ځای چمتو کول

لوستونه

د کور په لټه کې..... 2
د کرایې هوکړه لیک 13
د استوګنې د ځای ستونزې 20
د کور خوندیتوب 30

د ټولنیزو او روغتیایي خدمتونو څانګه (DSHS):
د کډوالو او پناه غوښتونکو د مرستې دفتر

© 2021 Refugee Women's Alliance, Seattle, WA

لوست:

د کور په لټه کې

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- په متحده آیالاتو کې د استوګني کورونه.
- د استوګني د کورونو پروګرامونه
- د استوګني د ځای د غوښتلو څرنګوالی

مطالب

نوي کلیمي 3
ستاسو په هېواد کې..... 4
Aye د نوي کور په لټه کې ده..... 4
د کورنو ډولونه..... 5
د کور لپاره اداینه ترسره کول 6
په خصوصي ډول په کرایه ور کول..... 7
د مناسبې بیې لرونکي استوګنځي 8
د یوه کور لپاره غوښتنه کول..... 10
نورې سرچینې او ملاتړ 11
Aye یو نوی کور وموندلو..... 11
را نغاړل 12

ReWA

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
کرایه	هغه پیسې چې تاسو یې د یوه کور په بدل کې ور کوئ چې مالک یې نه یاست
د ځمکې/کور څښتن	هغه شخص چې ستاسو لخوا په کرایه نیول شوی کور مدیریت کوي
ګروي	هغه پانګه چې تاسو یې د یوه کور په کرایه کولو لپاره لاسلیک کوئ
لګښتونه	د پطرولو، برښنا او انټرنټ په بدل کې اداینه ترسره کول
د کوټې ملګري	هغه خلک چې تاسو ور سره ژوند کوئ او کرایه هم ور کوي
مخکې اداینه	هغه پیسې چې تاسو یې د کور د پیرلو لپاره لومړی ادا کوئ
اجاره	هغه پیسې چې تاسو یې د خپل کور لپاره ادا کوئ
د مناسبې بیې لرونکي استوګن ځایونه	د هغو خلکو لپاره کورونه چې لږ پیسې لري
په خصوصي ډول کرایه ور کول	د یوه شخص اړوند کور چې هغه نورو ته په اجاره ور کوي
AMI	د متوسط عاید لرونکو سیمه - د سیمې نیمایي اوستوګن څومره پیسې ګټي
د مخینې چک کول	ستاسو د جرم تاریخچه
د کرایې ور کولو تاریخچه	د هغو ځایونه تاریخچه چې تاسو ژوند پکې کړی دی
کریډټ	ستاسو لخوا د کرایې او پورونو د ور کولو تاریخچه
د عاید سند	په ګوته کوي چې تاسو څومره پیسې ګټئ
د خوندیتوب ضمانت	هغه پیسې چې تاسو یې د کور د کرایه لولو لپاره په شروع کې ور کوئ
استوونکی	هغه شخص چې ستاسو سره د ګروی هوکړه لیک لاسلیک کوي او که چېرې ونه شئ کولای نو دوی به کرایه ادا کړي

ستاسو په هېواد کې

په یوه ډله کې خبرې وکړئ.

- آیا خلک په کورونو او یا آپارتمانونو کې ژوند کوي؟
- آیا خلک په کور په کرایه ورکوي او یا خپل کورنه لري؟
- تاسو څه ډول نوی کور پیدا کوئ؟

AYE د نوي کور په لټه کې ده

Aye د برما هېواد اوسېدونکې ده.

هغه متحده آیالتونو ته له خپل خاوند او ماشومانو سره راغلې ده.

د هغې کورنۍ په ټکزاس کې ژوند کوي.

Aye په ټکزاس کې څوک نه پېژني، مګر هغه په ستل کې یو د کاکا/ماما زوی لري.

Aye او د هغې کورنۍ سیټل ته ستانه شول.

دوی د خپل کاکا/ماما زوی سره ولاړل.

اوس، د هغې د کاکا/ماما زوی په کور کې ډېر خلک شته.

Aye اړ ده چې ځانته کور پیدا کړي، خو نه پوهېږي چې څنګه.

هغه اړ ده چې انګلیسي ژبه زده کړي.

هغه دنده نه لري.

Aye غواړي خپل د کاکا/ماما زوی ته څېرمه ژوند وکړي.

هغه غواړي د بس تمځای ته نږدې ژوند وکړي، ځکه هغه موټر نه لري.

پوښتنه

➤ Aye د خپل نوي کور لپاره څه غواړي؟

فعالیت: ستاسو لپاره ور کور

تاسو ته څه شی مهم دي؟ لاندې لیست ته وګورئ.

د تر ټولو مهم شي تر څنګ د 1 عدد ولیکئ.

په دوهم قدم کې د تر ټولو مهم شي تر څنګ د 2 عدد ولیکئ.

دې کار ته د 7 تر عدد یعنې تر ټولو لږ مهم شي پورې ادامه ور کړئ.

_____ لږ کرایه

_____ یو لوی کور

_____ خوندي ګاونډ

_____ د بس او ریل تمځای ته څیرمه

_____ کار ځای، ښوونځي، د خوراکي توکو پلورنځي او پارکونو ته څیرمه

_____ مهربانه ګاونډیان

_____ پارکینګ

د کورنو ډولونه

په متحده آیالتونو کې، بیلابیل ډول لرونکي کورونه او آپارتمانونه عام دي.

د کور لپاره اداینه ترسره کول

د کور لپاره د اداینې بیلابیلې لارې شتون لري:

کرایه

- تاسو هره میاشت د **ځمکې یا ملکیت خاوند ته اداینه ترسره کوئ.**
- تاسو د **ګروې** پاڼه لاسلیک کوئ.
- ستاسو د آپارتمان خاوند د ساتنې لپاره اداینه ترسره کوي.

د استوګنې شریک کورونه

- تاسې د **خپلې کوټې له ملګرو** سره په ګډه یو کور په کرایه نیسئ.
- د کوټې له ملګرو څخه موخه هغه خلک دي چې ستاسو او یا کورنۍ سره مو ژوند کوي.
- په یوازې ډول د یوه کور په کرایه نیولو په پرتله په شریک ډول د کور کرایه کول لږ لګښت لري.

د کور لرل

- تاسو خپل ځان ته کور پیرئ.
- دا ستاسو د راتلونکي لپاره غوره دی، مګر کیدای هغه قیمت تمام شي.
- تاسو د **مخکې اداینې** ترسره کولو لپاره پیسو ته اړتیا لرئ.
- تاسو اړ یاست چې له بانک څخه پیسې په پور واخلئ.
- هره میاشت تاسو بانک ته **د اجارې په بدل کې پیسې** ور کوئ.
- تاسو د بیمې، مالیاتو او ساتنې لپاره اداینه ترسره کوئ.

پوښتنې

➤ د کور لرلو لپاره کوم یو غوراوی ډېر ښه دی؟

➤ Aye به کوم غوراوی وټاکي؟

په خصوصي ډول په کرایه ور کول

په کرایه باندې د کور نیولو په اړه د معلوماتو لپاره، تاسو کولای شئ:

- له کورنۍ او ملګرو سره خبرې وکړئ.
- د ملکیت له مدیرانو سره خبرې وکړئ.
- په آنلاین ډول یې وپیرئ. په آنلاین ډول د کور د پلټلو پر مهال خوندیتوب په نظر کې ونیسئ! په آنلاین ډول د معلوماتو په بدل کې هیڅ ته پیسې **مه** استوئ.

د مناسبې بیې لرونکي استوګنځي

په متحده آیالتونو کې د مناسبې بیې لرونکي ډیری استوګنځي شتون لري.

HUD (کورونه او ښاري پراختیا)

- په هغه ښار کې د هغې غوښتنه وکړئ چې تاسو ژوند پکې کوئ.
- تاسو یوازې 1 ځل غوښتنه کوئ، مګر د انتظار یو لیست شتون لري.
- تاسو کولای شئ له 4-6 کلونو پورې انتظار وکړئ.
- که چېرې تاسو لږ او یا هیڅ پیسې ونه لرئ کورونه او ښاري پراختیا ښه دي. کرایه ستاسو د عاید پر بنسټ ده.

برخه 8

- غوښتنلیکونه په کال کې 1 ځل د 2 اونیو لپاره پرانیستل کېږی.
- په آنلاین ډول غوښتنه.
- 8 برخه یو لاټري ده. ډېر خلک غوښتنه کوي، مګر یوازې کم خلک یې ترلاسه کوي.
- که چېرې تاسو هغه ترلاسه نه کړئ، تاسو کولای شئ په راتلونکي کال کې بیا غوښتنه وکړئ.
- یو ځل چې تاسو 8 برخه ترلاسه کړه، دولت پریکړه کوي چې چېرته تاسو ژوند وکړئ او کرایه به څومره وي.

د کم عاید لرونکي کورونه / مالیاتي اعتبار

- د هغو خلکو لپاره چې له 30-80 سلنو پورې د سیمې متوسط عاید **(AMI) جوړوي.**
- د ملکیت د مدیرانو له لارې غوښتنه وکړئ.
- تاسو کولای شئ د نویو کورونو په خلاصېدو سره غوښتنه وکړئ.
- کرایه ستاسو د عاید پر بنسټ ده.
- یو ځل چې ستاسو کرایه تنظیم شوه، تاسو نه شئ کولای زیات عاید ترلاسه کړئ.

فعالیت: د مناسبې بیې لرونکو استوګن ځایونو به اړه حقایق

د استوګن ځایونو تر سم پروګرام لاندې یو د سم علامه وکاږئ.

	HUD	برخه 8	کم عاید
له 4-6 کلونو پورې انتظار وکړئ	✓		
پچه اچونه ده			
د هغو خلکو لپاره چې له 30-80 سلنو پورې د سیمې متوسط عاید (AMI) جوړوي			
غوښتنلیکونه په کال کې 1 ځل پرانیستی وي			
د بنار له لارې غوښتنه وکړئ.			
د ملکیت د مدیرانو له لارې غوښتنه وکړئ			
که چېرې تاسو نه ټاکل شوئ، تاسو بیا غوښتنه وکړئ			
تاسو یوازې 1 ځل غوښتنه کوئ			

د یوه کور لپاره غوښتنه کول

تاسو به دکور په کرایه کولو لپاره یو غوښتنلیک ډک کړئ.

د ملکیت مدیر ستاسو د ټولنیز خوندیتوب شمېرې، ای ډي او **د عاید سند** ته اړتیا لري.

همداراز د ملکیت مدیر به ستاسو د مخینې چک کول لپاره ستاو د **کرایې** ور کولو **تاریخچه** او د **کریډټو امتیازات** وګوري.

که چېرې تاسو متحده آیالتونو کې نوي راغلي یاست، کیدای شي تاسو به د کرایې ور کولو تاریخچه، د کریډټو امتیاز، عاید او د ټولنیز خوندیتوب شمېره ونه لرئ.

اندیښنه مه کوئ!

تاسو اوس هم کولای شئ کور په کرایه ونیسئ.

په ځینې حالتونو کې ښایي تاسو اړ شئ چې په لوړه کچه **امنیتي ضمانت** ور کړئ او یا **ضمانت کوونکی** ومومئ. که چېرې تاسو نه شئ کولای اداینه ترسره کړئ، نو یو ضمانت کوونکی به ستاسو پیسې ادا کړي. کیدای شي دا شخص د کورنۍ غړی او یا ملګری وي.

پوښتنې

- د یوه کوره د غوښتنې د ترسره کولو لپاره تاسو کومو معلوماتو ته اړتیا لرئ؟
- Aye تر اوسه دنده نه لري. آیا هغه کولای شئ کور په کرایه ونیسئ؟

نورې سرچینې او ملاتړ

د مرستې غوښتنه وکړئ

که چېرې تاسو د کور د موندلو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، تاسو مرسته ترلاسه کولای شئ.

د بیامیشتیدنې ایجنسۍ او یا د سیمه ییزې ټولنې اداري ته مراجعه وکړئ.

ستاسو د قضیې مدیر هم مرسته کولای شي.

لنډ مهالې مرسته

حتی که چېرې تاسو کور هم ولرئ، ښایي اضافي مرستې ته اړتیا ولرئ.

ډیرې ایجنسۍ داسې پروګرامونه لري چې ستاسو سره د یوې میاشتې لپاره د کرایې په ور کولو او یا د لګښتونو د بلونو په ادا کولو کې مرسته وکړي.

AYE یو نوی کور وموندلو

Aye د خپل کاکا/ماما زوی سره د نوي کور د موندلو په اړه خبرې وکړي.

د Aye د کاکا/ماما زوی د ملکیت دیوه مدیر سره ملګری دی.

د ملکیت مدیر وویل دلته یو کور د لاسرسي وړ دی.

Aye د کرایې یو غوښتنلیک ډک کړ.

هغې یو اجاره لیک ډک او لاسلیک کړ.

د هغې د کاکا/ماما زوی به ضمانت کوونکی وي.

Aye او د هغې کورنۍ د خپل کاکا/ماما زوی ته څیرمه یو نوی کور لري.

را نغاړل

ستاسو په اړه فکر کوي. پوښتنو ته ځواب ور کړئ.

- تاسو چېرته اوسېږئ؟
- هغه مو څه ډول خوښېږي؟
- آیا غواړئ حرکت وکړئ؟
- د استوګني ځای د موندلو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ؟
- د کوم پروګرام لپاره به تاسو غوښتنه واستوئ؟

لوست:

د کرایې هوکړه لیک

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د کرایې هوکړه لیک څه شی دی؟
- د کرایه کوونکي حقونه او مسوولیتونه
- د ځمکې یا ملکیت د خاوند حقونه او مسوولیتونه
- کله چې تاسو کور ته داخلېږئ او یا تري وځئ، نو څه ترسره کوئ

مطالب

نوې کلیمې 14
ستاسو په هېواد کې 15
د کرایې هوکړه لیک او تاسو 15
د کرایې د هوکړه لیکونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ 17
را نغاړل 19

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
د اجارې/د کرایې هوکړه لیک	هغه پانه چې تاسو یې د یوه کور او یا آپارتمان په کرایه کولو لپاره لاسلیک کوئ
اجاره کوونکی	هغه شخص چې اجاره ترلاسه کوي
د ځمکې خاوند	هغه شخص چې یو کور اجاره کوونکی ته ور کوي
وروستۍ نېټه	هغه نېټه چې کرایه باید پکې ادا شي
د ناوخته کېدو فیس	هغه پیسې چې په وخت د کرایې د نه ادا کولو له کبله یې تاسو ادا کوئ
د خوندیتوب ضمانت	هغې پیسې چې خپل کور ته د زیان رسولو په صورت کې ادا کوئ
زیان	د یو شي ماتېدل
پاملرنه کول	یو شي ته پاملرنه کول
رضایت	موافق، ووایئ هو
ایستل	تاسو باید د کرایې د نه ادا کولو او یا زیان له کبله له خپل کور څخه ووځئ
مجهز شوی	د کور څېښتن تاسو ته فرنیچرونه در کړل
لغوه کول	پایته رسول

ستاسو په هېواد کې

له خپلو ټولګي والو سره خبرې وکړئ.

- آیا تاسو کور په کرایه نیولی او که مو خبل دی؟
- که چېرې تاسو په کرایه نیولی وي، آیا تاسو باید د کرایې هوکړه لیک لاسلیک کړئ؟
- تاسو د هغې لپاره کوم لګښتونه ادا کړي دي؟

د کرایې هوکړه لیکونه او تاسو

د اجاره لیک لاسلیک کول

کله چې تاسو کور په کرایه نیسئ، تاسو کرایه کوونکی بلل کېږي.

تاسو د کرایې او یا اجارې هوکړه لیک لاسلیک کوئ.

تاسو هوکړه کړې چې د یوه وخت لپاره کور په کرایه ور کړئ.

تاسو هوکړه کړې چې کرایه ادا کړئ.

د اجارې هوکړه لیک د اجاره/کرایه کوونکي او د ځمکې د خاوند حقونه او مسوولیتونه په ګوته کوي.

د اجارې/کرایې په هوکړه لیک کې مهم معلومات شامل دي:

- کرایه څومره ده؟
- د کرایې د ادا کولو وروستۍ نېټه څه وخت ده؟
- تاسو دا کور د څومره وخت لپاره په کرایه نیولی دی
- هلته به څومره خلک ژوند وکړي
- د کومو لګښتونو لپاره تاسو اداینه ترسره کوئ

پوښتنې:

- آیا تاسو اوس کرایه ادا کوئ؟
- ستاسو کرایه څومره ده؟
- تاسو د کومو لګښتونو لپاره اداینه ترسره کوئ؟

د ځمکې/ملکیت د خاوند لپاره معلومات

وړاندې له دې چې تاسو د کرایې هوکړه لیک لاسلیک کړئ، کیدای شي د کور څښتن لاندې موارد و ارزوي:

1. ستاسو د پور اخیستلو او د هغې د بیرته **اداینې تاریخچه**: آیا مخکې مو کرایه او بلونه په وخت ادا کول؟
2. **ستاسو د عاید سند**: آیا تاسو دنده لرئ؟

که چېرې تاسو د پور اخیستلو او د هغې د بیرته اداینې تاریخچه او یا دنده نه لرئ، تاسو کولای شئ یو ضمانت کوونکی ومومئ. که چېرې تاسو خپله کرایه نه شئ ادا کولای، نو یو **ضمانت کوونکی** به هغه ادا کړي. دا کیدای شي د کورنۍ غړی او یا ملګری وي.

د خوندیتوب ضمانت

وړندې له دې چې تاسو کور ته کډه وکړئ، تاسو باید د **خوندیتوب ضمانت** ادا کړئ.

ډیری وخت د خوندیتوب ضمانت د 1 میاشتې د کرایې له اندازې سره یو ډول وي.

که چېرې تاسو خپل کور ته پام وساتئ، نو د خوندیتوب ضمانت به بیرته ترلاسه کړئ.

که چېرې تاسو خپل کور ته زیان و رسوئ، د ځمکې/ملکیت خاوند کولای شي د زیانمن برخې د ترمیم لپاره ستاسو د خوندیتوب له ضمانت څخه کار واخلي.

کله چې تاسو له کور څخه وځئ، نو خپل کور پاک کړئ.

د ځمکې/ملکیت خاوند به تاسو ته د خوندیتوب ضمانت بیرته در کړي.

د اجارې/کرایې د هوکړه لیک تر پښو لاندې کول

که چېرې تاسو کرایه ادا نه کړئ او یا خپل کور ته زیان و رسوئ، تاسو خپل د کرایې هوکړه لیک تر پښو لاندې کړی دی.

بنایي تاسو **له کور څخه و ایستل شئ**.

تاسو به اړ شئ چې کور پرېږدئ.

دا ډېره بده ده چې له کور څخه و ایستل شئ.

د کرایې په هوکړه لیکونو باندې پوهېدل

فعالیت: د اجاره لیک لوستل

اجاره لیک ولولئ او پوښتنو ته ځواب ور کړئ.

د کرایې/اجارې هوکړه لیک

د ځمکې/ملکیت خاوند: John stevens

اجاره کوونکی: Husham و Huda Sakkar

دوره: د 2020 کال د اګست میاشتې په 9 نېټه پیل کیږي او د 2021 کال د اګست میاشتې په 9 نېټه پایته رسیږي

ملکیت: آپارتمان په 456 Military Way Apt کې, Tukwila, 402, واشنګټن.

2 د خوب خونې

1 حمامونه

مجهز نه دی

د کور توکي:

یو یخچال، بخارۍ، مایکروویو او د لوښو د وینځلو ماشین

کرایه: 1,600 ډالر

وروستۍ نېټه: د هرې میاشتې په1ړۍنېټه.

د ناوخته کېدو فیس: 25.00 ډالر د هرې ورځې ناوخته کېدو په بدل کې.

د خوندیتوب ضمانت: 650 ډالر

لګښتونه:

د کرایې په ګډون: اوبه، برېښنا، د ځځلو لرې کول

شامل نه دي: مرکز ګرمي

پوښتنې:

- کرایه کوونکي څوک دي؟
- د ځمکې/ملکیت خاوند څوک دی؟
- په آپارتمان کې څومره د خوب خونې شته دي؟
- کرایه څومره ده؟
- د کرایې د ادا کولو وروستۍ نېټه څه وخت ده؟
- Husham او Huda باید د کومو لګښتونو په بدل کې اداینه ترسره کړي؟

فعالیت: حقونه او مسوولیتونه

له خپل ملګري سره کار وکړئ. په چارټ کې خالي ځایونه ډک کړئ.

کرایه/اجاره کوونکی باید دا کارونه ترسره کړي	د ځمکې/ملکیت خاوند باید دا کارونه ترسره کړي

را نغاړل

سم او یا ناسم؟ د سم لپاره T او د ناسم لپاره F ولیکئ.

_____ دا غوره ده چې د اپارتمان د کرایه کولو پر مهال د کرایې یو هوکړه لیک ولرئ.

_____ د کرایې هوکړه لیک تاسو ته په ګوته کوي چې کرایه څومره ده.

_____ وروستۍ نېټه هغه وخت دی کله چې تاسو خپله کرایه ادا کوئ.

_____ که چېرې تاسو دنده له لاسه ور کړئ، ستونزه نه لرئ چې په هغې میاشت کې کرایه ور نه کړئ.

➤ ولې اړینه ده چې د کرایې هوکړه لیک باید ولرئ؟

لوست:

د استوګنې د ځای ستونزې

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- ستاسو په کور کې ستونزې
- د ځمکې یا ملکیت د خاوند مسوولیتونه
- د کرایه/اجاره کوونکي مسوولیتونه
- د استوګنې د ځای اړوند ستونزې په اړه د ملکیت له خاوند سره څه ډول خبرې وکړو

مطالب

نوې کلیمې 21
ستاسو په هېواد کې 21
د Najwa او Khaleel کیسه 22
د استوګنې د ځای عامې ستونزې 23
حقونه او مسوولیتونه 24
د یوې ستونزې په اړه راپور ور کول 27
را نغاړل 29

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
مسوولیتونه	هغه څه چې تاسو یې باید ترسره کړئ
حقونه	د هغه څه په اړه اصول چې تاسو یې ترسره کولای او یا لرلی شئ
د ګرمولو سیستم	ستاسو کور څه ډول ګرم وساتل شي
نل دواني کول	هغه پیپونه چې ستاسو کور ته اوبه لیږدوي
برښنا	د ګروپونو، یخچال او اون لپاره برښنا
خزندګان/آفتونه	سور پرې، غنې، میږیان
د مورچانو کورنۍ	مورچان، مږې
پوپنک/ شنخا	د زیاتې کچې رطوبت له امله ناوړه رشد
بشپړونکی	یو شی چې په اضافه کېدو سره یې یو بل شی بشپړېږي
د یوې ستونزې په اړه راپور ور کړئ	د ځمکې/ملکیت خاوند ته د ستونزې په اړه ووایئ

ستاسو په هېواد کې

له خپلو ټولګي والو سره خبرې وکړئ

- تاسو د استوګنې د ځای اړوند کومه ستونزه درلوده؟
- آیا تاسو هغه حل کړه او یا د حل کولول لپاره مو له چا څخه د مرستې غوښتنه وکړه؟

د NAJWA او KHALEEL کیسه



Najwa او د هغې خاوند Khaleel 4 اولادونه لري.

دوی په یوه آپارتمان کې ژوند کوي.

دوی د 2 کلونو لپاره هلته ژوند کړی.

آپارتمان ډېرې ستونزې لري.

ګاونډیان په نیمه شپه کې په لوړ غږ سره سندرې غږوي.

Najwa، Khaleel او د دوی ماشومان نه شي کولای خوب وکړي!

هلته په چت او دیوالونو باندې پوپنک شته.

Najwa اندیښمنه ده چې دا صحي نه دي!

د Najwa او Khaleel لپاره انګلیسي آسانه نه ده.

دوی غواړي یو ښه کور ته ګډه وکړي، مګر نه پوهیږي چې دا کار څه ډول وکړي.

د نوي او مناسبې کرایې لرونکي آپارتمان پیدا کول ستونزمن دي!

پوښتنې

- Najwa او Khaleel څه ستونزه درلوده؟
- دوی باید څه ترسره کړئ؟
- تاسو په خپل کور کې څه ستونزه لرئ؟

د استوګنې د ځای عامې ستونزې

فعالیت: نوې کلیمې تمرین کړئ

انځورونو ته له نویو کلیمو سره سمون ور کړئ:

ځاځکي تویدل

د سوري کېدو معنی لري

ماته شوې کړکۍ

بند شوی کمود

موړکان

پوپنک یا شنخا

خزنده ګان(سور پري، غنې)

د دروازې مات شوی قلف

برښنا تلل

بخارۍ خرابه شوې ده

د چت لیک یا سوري کېدل

حقونه او مسوولیتونه

فعالیت: خالي ځایونه ډک کړئ 1

جملې ولولئ او خالي ځایونه په چوکاټ کې د شته کلیمو سره ډک کړئ.

مسوولیتونه	***آپارتمان***	***حقونه***
اجاره	***کرایه کوونکی***	***د ملکیت خاوند***

کله چې تاسو په متحده آیالتونو کې یو آپارتمان او یا کور په کرایه اخلئ نو ستاسو لخوا لاسلیک شوې پانه _____

د کرایې هغه سند دی چې _____ کرایه کوونکی او _____ د ملکیت څښتن لري.

دا یو قانوني پانه ده چې _____او د ملکیت له خاوند څخه ساتنه کوي.

یو اجاره لیک تاسو د خپل _____لخوا د غیر عادلانه اقدام څخه ژغوري.

د ځمکې یا ملکیت د خاوند مسوولیتونه

- د ګرمولو سیستم
- تشناب او پیپونه
- بربنډ
- قلف
- څراغونه
- پوښک یا شنخا
- د دود یا لوګي کشف کوونکی
- غښې
- یخچال، بخاری، د لوښو وینځلو وسیله، وینځونکی/وچوونکی

فعالیت: خالي ځایونه ډک کړئ 2

د دود	***خوندي***	***برښنایي کشف کوونکي***	
	د ژوندکو	***قانون***	

د ملکیت خاوند او کرایه کوونکي باید له قانون څخه پیروي وکړي.

د ملکیت خاوند باید ډاډمن کړي چې آپارتمان ته ستاسو له کډه کولو وړاندې هغه ځای _____او پاک دی.

د ملکیت باید ډاډ ترلاسه کړي چې _____، چې د پیپونه او د ګرمولو سیستم منظم دی.

دوی باید د هر ډول _____او خزندګانو لپاره _____درمل چمتو کړي.

فعالیت: خالي ځایونه ډک کړئ 3

د خځلو	*دیوالونو*	*فرشونو*	*رنګ کولو*	*اجازه*

کرایه نشینان باید دیوالونه او _____پاک، بیرون ته وباسي او _____ بیرته یې د کارولو وړ ګرځول په نظر کې ونیسي.

کرایه نشینان مسوولیت لري چې د ملکیت خاوند ته د کور د هر ډول ستونزو په اړه ووایي.

ګه چېرې تاسو غواړئ په خپل آپارتمان کې بدلونونه رامنځته کړئ، لکه _____ دیوالونه، تاسو باید د ځمکې/ملکیت خاوند څخه د اجازې غوښتنه _____وکړئ.

فعالیت: څوک مسوولیت لري؟

څوک مسوولیت لري چې هغه سم کړي؟ د کرایه نشین لپاره **T** ولیکئ او د ملکیت د خاوند لپاره **L** ولیکئ.

_____ څاڅکي تویدل د سوري کېدو معنی لري.

_____ هلته سور پرې شته دي.

_____ هغه ځای ناپاک دی.

_____ په دیوال باندې د رنګه قلمونو نښې دي.

_____ بخارۍ ماته شوې.

_____ چوکۍ ماته شوې.

_____ فرش د قهوې لکو ناپاک کړی دی.

_____ د ګروپ شیشه راوتلې ده.

_____ د دود کشف کوونکی کار نه کوي.

د یوې ستونزې په اړه راپور ور کول

تاسو په انځور کې څه وینئ؟

کله چې یو شی ترمیم ته اړتیا لري، نو د ملکیت خاوند ته ووایئ.

ژر تر ژره د ستونزې په اړه خبر ور کړئ، پرته له دې ښایي تاسو مسوول وګڼل شئ.

فعالیت: د ځمکې/ملکیت خاوند سره اړیکه نیول

له یوه ملګري سره یې تمرین کړئ.

Ali: *سلام. زه Ali یم په 102 آپارتمان کې ا وسېږم.*

د ځمکې/ملکیت خاوند: *سلام Ali. زه تاسو سره څه مرسته کولای شم؟*

Ali: *زما د ګرمولو سیستم کار نه کوي. ډېر ساړه دي. کولای شئ هغه جوړ کړئ؟*

د ځمکې/ملکیت خاوند: *زه به ډېر ژر درشم.*

Ali: *څه وخت؟*

د ځمکې/ملکیت خاوند: *نن ورځ په 1:00 بجه.*

Ali: *مننه!*

همداراز تاسو کولای شئ د ځمکې/ملکیت خاوند ته یو لیک ولیکئ. که چېرې تاسو کولای شئ یو لیک ولیکئ، د سند په توګه یې یوه کاپي له ځان سره وساتئ.

فعالیت: د یوه لیک لیکل

لیک ولولئ. پوښتنو ته ځواب ور کړئ.

د 2020 کال د اګست میاشتې 8 نېټه
Najwa Mohammadi
609 Blanchard St. Apt 203,
Seattle, WA, 98118

John Brown
400 Pine St. Suite 110,
Seattle, WA, 98109

بناغلی Brown،

زه په خپل اپارتمان کې یوه ستونزه لرم. د آشپز خانې دست شوی لیک شوی دی. کیدای شي اوبه آپارتمان ته زیان و رسوي. په مهربانۍ سره کیدای شي دا ستونزه حل کړئ؟

مننه،
Najwa Mohammadi

پوښتنې:

- د کرایه کوونکي نوم څه شی دی؟
- د ملکیت د خاوند نوم څه شی دی؟
- ستونزه څه ده؟
- څوک د هغې د جوړولو مسوولیت لري؟

را نغاړل

دوي هغه نوي شیان ولیکئ چې تاسو زده کړي دي.

1. _____

2. _____

لوست:

د کور خوندیتوب

موخې

په دې لوست کې به تاسو له لاندې مواردو سره آشنا شئ:

- د کور خطرونه
- د محصولاتو د لیبلونو لوستل
- محصولات څه ډول ذخیره کړو
- د خوندیتوب له وسیلو څخه کار اخیستل
- په متحده آیالتونو کې د کثافاتو غور ځول

مطالب

نوې کلیمې 31
ستاسو په هېواد کې 32
د محصول خطرونه 33
لیبلونه 34
ماشومان خوندي وساتئ 36
د خوندیتوب وسیلې 37
د کثافاتو مدیریت 38
ولې ببرته د کارولو وړ کول او کمپوسټ؟ 42
را نغاړل 43

نوې کلیمې

کلیمې	معنی ګانې
مسموم کوونکي/زهري	که چېرې تاسو هغه وخورئ تاسو ناروغ او یا مړه کېږئ
ګواښ/خطر	ناخوندي
پاملرنه/**خبرداری**	خورا احتیاط وکړئ.
لیبل	د یوه محصول په اړه معلومات
د اور اخیستلو قابلیت لرل	کولای شي اور واخلي
بېرته فعال کوونکي	ړ زهري ګاز او یا اور رامنځته کوونکي
شړونکي یا تیزابي ماده	کولای شي ستاسو پوستکی و سوزوي
اضافه توکي	یو شی چې تاسو یې نه غواړئ یا اړتیا ورته نه لرئ
کمپوسټ	د خوړو او یا نباتاتو اضافي مواد
خټلي/کثافات	هغه خټلي چې نشو کولای هغه بل شی جوړ کړو
بېرته د کارولو وړ ګرځول	هغه خټلي چې کیدای شي نوی شی ترې جوړ شي
د اقلیم بدلون	ځمکه د ګرمېدو په حال کې ده
د هوا ککړتیا	د چاپېرل لپاره بده ده
کاربن مونو اکساید	هغه وژونکی ګاز چې تاسو نه شئ کولای هغه ووینئ او یا بوی یې کړئ
د کاربن مونو اکساید خبرتیا	که چېرې ستاسو په کور کې کاربن مونو اکساید وي نو هغه به ډېر لوړ غږ رامنځته کړي
د دود لوګي خبرتیا	که چېرې ستاسو په کور اور وي او یا دود وي نو هغه به ډېر لوړ غږ رامنځته کړي
د اور وژنې ډبه	هغه کولای شي کوچنۍ اور لګېدنې خاموشې کړي

ستاسو په هېواد کې

د خپلو هېواد په اړه فکر وکړئ.

- آیا تاسو په کور او یا آپارتمان کې ژوند کوئ؟
- آیا ستاسو کور خوندي و؟
- د پاکولو لپاره تاسو له څه شي څخه کار اخلئ؟
- تاسو خپل اضافه توکي چېرته ایښي دي؟

فعالیت: د کور خطرونه

انځورونو ته وګورئ. له یوې ډلې سره خبرې وکړئ.

- آیا تاسو په خپل کور کې دا خونې لرئ؟
- په هره خونه کې یو شمېر خطرونه کوم دي؟

د محصول خطرونه

په لاندې ډول د محصول 4 خطرونه راغلي دي:

زهري یا مسموم کوونکي 	که چېرې تاسو هغه وخورئ کولای شي تاسو ناروغ او یا مړه کېږئ
د اور اخیستلو قابلیت لرل 	کولای شي اور واخلي
شړونکي یا تیزابي ماده 	کولای شي تاسو وسوځي
بېرته فعال کوونکي 	کولای شي د مسموم کوونکي ګاز، اور او یا چاودنې سبب شي

اړخوونه: kingcounty.gov

فعالیت: لوبنی

انځورونو ته وګورئ.

- لوبني څه شی دي؟
- ولې تاسو اړ یاست چې پوه شئ؟

انځورونه: kingcounty.gov

لیبلونه

محصولات لیبلونه لري تر څو تاسو ته ووایي چې په داخل کې څه شی دي. لیبلونه د خوندیتوب معلومات لري:

ګواښ/خطر	**لوړ خطر**
پاملرنه/خبرداری	**متوسط خطر**
د خوندیتوب له لیبل پرته	**خوندي - خطر نشته**

فعالیت: د لیبلونو لوستل

لیبلونو ته د خطر له کچې سره سمون ور کړئ.

لوړ خطر
متوسط خطر
بې خطره

د ماشومانو خوندي ساتل

انځور ته وګورئ.

- تاسو څه وینئ؟
- څه شی ناسم دي؟

ستاسو ماشومان باید خوندي وي.

1. درمل او محصولات په لوړه الماری کي کېږدئ.
2. لاستي داري دروازي بندي کړئ. د کلیپ او یا رابر څخه کار واخلئ. تاسو کولای شئ ځانګړي قلفونه وپیرئ.
3. له خپلو ماشومانو سره د خوندیتوب په اړه خبري وکړئ. دوی ته د هغو شیانو په اړه ووایئ چې دوی نه شي کولای هغه وخوري او یا لمس یې کړي.

د خوندیتوب وسیلې

تاسو باید په خپل کور کې د دود او یا کاربن مونو اکساید خبرداري ور کوونکي وسیلې ولرئ.

که ویې نه لرئ نو له ستونزو سره به مخ شئ.

د دود لوګي خبرتیا

- که چېرې ستاسو اور او یا دود وي نو هغه به ډېر لوړ غږ رامنځته کړي.
- هغه په دیوال او یا چت کې وي.

د کاربن مونو اکساید خبرتیا

- که چېرې ستاسو په کور کې کاربن مونو اکساید وي نو هغه به ډېر لوړ غږ رامنځته کړي.
- هغه چت ته به نږدې دیوال کې وي.
- کاربن مونو اکساید هغه ګاز دی چې کولای شي تاسو ووژني.
- تاسو نه شئ کولای هغه ووینئ او یا بوی یې کړئ.
- هغه موټرونه، د تیلو د سوزولو او اونیس څخه رامنځته کېږي

د خبرداري ور کوونکو وسیلو آزمایل

- د خبرداري دواړه وسیلې بټرۍ خوري.
- د آزمایلو لپاره، د خبرداري پرمخ تنۍ کیکاږئ.
- د خبرداري وسیله باید غږ تولید کړي
- که چېرې هغه غږ تولید نه کړي، هغه نویو بټریو ته اړتیا لري.

انځورونه: kingcounty.gov, seattle.gov, cdc.gov

د اور وژنې ډبه

- یو شمېر کورنه د اور وژنې ډبه لري.
- هغه کولای شي کوچنۍ اور لګېدنې خاموشې کړي.
- په آبارتمانونو کې، دا وسیلې ډیرې وخت بیرون او یا د سالون په لار کې وي.

د اور وژنې ډبې کارول

انځور: osha.gov

د اضافه توکو مدیریت

- تاسو څه وینئ؟
- آیا تاسو په خپل کور د ځلو دا ټکورۍ لرئ؟
- د هغې په داخل کې څه شی اچول کېږي؟

انځور: seattle.gov

کمپوسټ: کمپوسټ خوړو او بڼ د اضافه توکو لپاره دی.

له هغې څخه نوي توکي جوړ کړئ: هغه خځلې چې کیدای شي نوی شی ترې جوړ شي.

خځلې یا کثافات: هغه خځلې چې نه شي کیدای نوی شی ترې جوړ شي.



Images: seattle.gov, oregonmetro.gov, osha.gov, michigan.gov

د ښار د کثافاتو د مدیریت اصول

هر ښار د کثافاتو اصول لري.

په لاندې ډول د سیټل د اضافي توکو یا کثافاتو اصول را وړل شوي دي:

فعالیت: هغه چېرته وړل کیږي؟

کټافاتو ته د هغوی له سمې ټوکرۍ سره سمون ور کړئ.

Images: seattle.gov, friscotexas.gov, epa.gov

جامې

څیري او یا ناپاکې جامې د اضافی توکو برخې ته اچول کیږي.

که چېرې تاسو ښې او پاکې جامې لرئ، هغه یوه پلورنځی او یا د سرپناه ځای ته ور کړئ.

ولې بېرته د کارولو وړ کول او کمپوسټ؟

- هغه د ځمکې لپاره ښه دي.
- هغه له نباتاتو، حیواناتو او خلکو سره مرسته کوي.
- هغه د هوا د ککړتیا په مخنیوي کې مرسته کوي.
- هغه مرسته کوي چې د اقلیم بدلون ټکنی کړي.

انځور: seattle.gov

را نغاړل

- تاسو د خپل کور د خوندیتوب لپاره څه ترسره کولای شئ؟
- تاسو څه ډول کولای شئ په خپل کور کې د بیرته د کارولو وړ وګرځوئ او یا کمپوسټ یې کړئ؟

_____

_____

_____

_____

_____

کورنۍ دنده: ستاسو په کور کې خوندیتوب

ستاسو په کور کې:

☐ د دود او کاربن مونو اکساید کشف کوونکی ومومئ او ویې آزمویئ.

☐ د اور وژنې ډبه ومومئ.

☐ د اضافي توکو، بیرته د کارولو وړ ګرځېدونکو توکو او کمپوسټ لپاره د خټلو ټکورۍ پیدا کړئ.